**بسم الله الرحمن الرحيم**

# ايا د سرو زرو پر هغو ګاڼو زکات شته، چې د سپما په موخه ساتل شوي وي؟

ليوای سبېح ته:

**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

السلام عليکم زموږ قدرمن امير صاحب!

ايا د سرو زرو پر هغو ګاڼو زکات شته چې د سپما په موخه ساتل شوي وي ؟ جزاک الله خير! الله سبحانه وتعالی دې ستاسې په لاسونو دغه دعوت ته بری ور په برخه کړي...

**ځواب:**

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

۱. ګاڼې يا زيورات هغه څه دي چې يوه ښځه يې د ځان ښايسته کولو په موخه کاروي. له سرو يا سپينو زرو جوړ شوي توکي پر مړوندونو، غاړې، غوږونو او د بدن پر نورو برخو ځړوي، ترڅو ځان پرې سينګار کړي.

د ګاڼو زکات نشته، هغه که د سرو او سپينو زرو او يا هم نورو قيمتي غميو لکه مرغلرو، ياقوتو، زمرودو او نورو ارزښتناکو ډبرو څخه جوړ شوي وي. که ګاڼې زياتې وي يا کمې؛ که ټاکل شوي نصاب ته رسېدلي وي او يا تر هغه هم زياتې وي، بيا هم پر دې ټولو شيانو باندې هېڅ ډول زکات نشته، ځکه دا د اغوستلو توکي دي، دا شيان يوه ښځه د سينګار او ښکلا لپاره کاروي.

الليث بن سعد له ابي الزبير او هغه له جابر رضی الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «**ليس في الحليّ زكاة**» ***ژباړه:*** *پر زيوراتو زکات نه شته.* ابن قدامه دا حديث په المغني کې را اخيستی دی.

ابو عبيد له عمرو ابن دينار څخه روايت کوي، دی وايي:«له جابر بن عبدالله څخه پوښتنه وشوه چې ايا د ګاڼو زکاته شته. هغه وويل، "نه". دوی ورته وويل که تر ۱۰ زرو هم واوړي؟ ده ورته وويل، "هو".»

عبدالله ابن القاسم له خپل پلار څخه روايت کوي چې وايي: «د رسول الله صلی الله عليه وسلم له مېرمنې حضرت عايشه رضی الله عنها سره په کور کې د دې يتيمې خورزې اوسېدلې، دې به په زيوراتو سينګارولې، هغې (رضی الله عنها) به د دغو زيوراتو زکات نه ورکاوه.» (دا حديث امام مالک په الموطا کې روايت کړی دی)

د عمرو ابن شعيب په حديث کې متن په دې ډول راغلی دی: «يوه ښځه چې لور يې هم ورسره وه او د سرو زرو دوه بنګړي يې په لاس وو، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل:

«**هل تعطين زكاة هذا؟**» ***ژباړه:*** *ایا د دې زکات ادا کوې؟* هغې ورته وویل: "نه" رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «**أیسرُّك أن یُسوِّرك الله بهما بسوارین من نار**». ***ژباړه:*** *ایا ستا دا خوښه ده چې الله سبحانه تعالی د دې پر ځای د اور بنګړي در په لاس کړي؟* ابو عبید د دغه حدیث په اړه وایي: «موږ یوازې دومره پوهېږو چې دا حدیث فقط یو ځلې روایت شوی دی، چې د روایت په سلسله کې یې خلکو هم اوس او هم په تېر وخت کې بحث کړی دی.» الترمذي وایي: «هیڅ شی تر دې عنوان لاندې نه راځي.»

هغوی چې په دې اند دي چې د ګاڼو زکات نشته عبارت دي له: ابن عمر، جابر، انس، عایشه، اسما، القاسم، الشعبي، قتاده، محمد بن علي، مالک، الشافعي، احمد، ابو عبید، اسحاق او ابو ثور څخه.

دا و د ګاڼو په اړه، هغه څه چې ښځې یې د سینګار په توګه کاروي، البته که د سوداګرۍ لپاره وي، نو د هغو ګاڼو زکات باید ادا شي چې د سوداګریزو موخو لپاره کارول کېږي.

۲. خو که چېرې ګاڼې نه د سینګار او نه هم د سوداګرۍ لپاره ساتل شوي وي، او پرته له اړتیا څخه د سپما په موخه ایښودل شوي وي، دا بیا په کنز (ذخیره کولو) کې راځي. دا کار حرام دی که څه هم زکات یې ورکول کېږي.

د مال د ذخیره کولو د مانا په اړه الله سبحانه تعالی فرمایي:

**﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ * يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُونَ﴾**
(التوبه ۳۴-۳۵)

***ژباړه:*** *هغه کسان چې سره او سپین زر ذخیره کوي او د الله په لار کې یې نه صدقه کوي، نو هغوی ته د دردناک عذاب زېری ورکړه. یوه ورځ به راشي چې په همدې سرو او سپینو زرو به د دوزخ اور ګرم کړل شي، بیا به په هغه سره ددې خلکو تندي، اړخونه او شاګانې داغ کړل شي. دا هغه څه دي چې تاسو د خپلو ځانونو لپاره ذخیره کړي وو، نو خوند وڅکئ د هغه څه چې تاسې ذخیره کړي وو.*

امام احمد په یوه صحیح روایت کې له ابي امامه څخه روایت کړي دي چې وایي: «د اهل صفه له ډلې څخه یو نفر وفات شو، د هغه په جامو کې یو دینار وموندل شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**كَيَّة**» ژباړه: *«دی به وسوځل شي»* بیا وایي: یو بل نفر هم وفات شو او د هغه په جامو کې دوه دیناره وموندل شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**كَيَّتَان**» **ژباړه:** *«دی به دوه ځله وسوځي»*

الطبري هم د روایت له ورته سلسلې سره همدا حدیث له ابي امامه الباهلي څخه روایت کړی دی. دا شواهد په څرګنده د سرو او سپینو زرو له ذخیره کولو څخه مسلمانان منعه کوي، که څه هم دوه دیناره او حتی یو دینار وي؛ تر هغو چې دا پیسې له کوم هدف څخه پرته ذخیره شوي وي.

سربېره پر دې، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره د دغو دوو کسانو په اړه ځکه وکړله چې دغو کسانو د صدقاتو له لارې خپل ژوند تامیناوه، خو بیا یې هم سره زر ساتلي وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**كية**» یو ځلې سوځل «**كيتان**» :دوه ځلې سوځل. دا د الله تعالی د دغې ارشاد له مخې:

**﴿يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ﴾** *[التوبة :۳۵]*

***ژباړه:*** *یوه ورځ به راشي چې په همدې سرو او سپینو زرو به د دوزخ اور ګرم کړل شي، بیا به په هغه سره د دغو خلکو تندي، اړخونه او شاګانې داغ کړل شي.*

دا ایت د کنز یا ذخیره کولو په اړه دی. دا د ذخیره کولو د حرمت په اړه څرګند دلیل دی، که سپما د زکات نصاب ته رسېدلې وي یا نه، زکات یې ادا شوی وي یا نه ـ په هر حالت کې د سپما ټول ډولونه حرام دي.

**ستاسې ورور عطاء بن خلیل ابو الرشته**

**۱۴۳۵هـ ق، د جمادی الثاني ۲۷مه**

**۲۰۱۴م، د اپرېل ۲۷مه**